# ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي، ښاغلي تدامیچي یاماموتو وینا

[په هغه ډول، چې وړاندې شوې]

## نیویارک، ۲۰۱۹ کال د جون ۱۹

***

ښاغلی رئیس،

د امنیت شورا غړو،

یو کال مخکې د افغانستان خلکو په ټول هېواد کې د اختر درې ورځې بې سارى اوربند ونمانځه. د سولې په فضاء کې د دغو خوښیو نمانځنې شیبو دوی ته د جګړې پرته ژوند یوه لنډه کتنه برابره کړه او دوی وکولای شول چې خپلې سترګې د یو سوله ایز راتلونکې په لور واړوي. خو راتلونکو دولسو میاشتو دا هم وښودله چې د سولې لاره څومره سخته ده. له بده مرغه، سږ کال د اختر اوربند بیا ځلې و نشو، خو بیا هم هغه بنسټونه چې په تیر کال کې ایښودل شوي وو له لاسه نه دي ورکړل شوي. شپږ اونۍ وړاندې، زرګونه کسان د سولې په مشورتي جرګه کې د سولې په اړه د نظرونو د تبادلې لپاره سره راټول شول. مدني خوځښتونو د سولې لپاره خپلو حرکتونو ته دوام ورکړی، خو مخکې له دې چې د دې پرمختګ په اړه نور څه ووایم، اجازه راکړئ چې لومړی تاسو ته د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره د چمتووالي په اړه تازه معلومات درکړم.

د ولسمشرۍ ټاکنې چې ټاکل شوې د سپټمبر په ۲۸ نېټه ترسره شي، د افغانستان د دیموکراتیک سیاسي جوړښت د مشروعیت بیا ډاډمنولو لپاره به یوه مهمه او کلیدي شیبه وي. افغان وګړو د ګواښونو او ناوړه امنیتي شرایطو سره سره د ټاکنو له لارې د خپلو سیاسي مشرانو د ټاکلو لپاره تلپاتې ژمنتیا ښودلې ده. د ټاکنو مدیریتي ادارې، دولتي بنسټونه، سیاسي مشران، نوماندان او نړیوال شریکان مکلف دي چې د باور وړ او پر وخت ټاکنې ترسره کړي، او د دې پروسې پایلې ومني.

د سپټمبر په ۲۸ نېټه د ولسمشریزو ټاکنو ترسره کولو ته د لومړیتوب ورکولو لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړې د ټاکنیز مهالویش په اړه اړین وضاحت رامنځته کړ. سره له دې چې، دا موده خورا لنډه ده او د مهالویش له مخې د باوري ټاکنو ترسره کولو لپاره باید د پام وړ تخنیکي او عملیاتي ننګونې له منځه یوړل شي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون په تېرو څو اونیو کې د مهم پرمختګونه کړي دي چې: د عملیاتي پلان او بودیجې نهايي کول او په غزني ولایت کې د بشپړې نوملیکنې سرېیره په ټول هېواد کې د تقویتي نوملیکنې بهیر پیلیدل له دغو پرمختګونو څخه دي. که څه هم، د تېر کال د خورا لانجمنو پارلماني ټاکنو او بیا د ټولو ټاکنیزو کمیشنرانو له ګوښه کولو وروسته، د ټاکنو د مدیریت د نویو ادارو لپاره ترټولو ستونزمن کار د خلکو باور بېرته ترلاسه کول دي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید وښيي چې کولای شي هغه ستونزې حل کړي چې پارلماني ټاکنې یې زیانمنې کړې او د راتلونکو ټاکنو لپاره چمتووالي کې له ترلاسه شوو تجربو کار واخلي. په دې چمتووالي کې باید د رایه ورکوونکو د نوملړونو پر وخت خپرولو لپاره پرمختللې کړنلارې، د ټاکنیزو کارکوونکو روزنه، ډیر پیاوړې لاسرسی او د رایې ورکوونکو حساسیت، او د ټاکنیزې ټکنالوژۍ پر وخت معرفي کول او پلي کول شامل وي.

ملګري ملتونه د ۱۷۰ داخلي او بهرنيو کارکوونکو په شتون کې د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو اورېدلو کميسيون سره د ټاکنو لپاره د چمتووالي په ټولو اړخونو کې کار کوي. په دغو کارکوونکو کې څلور نړيوال د رای حق پرته کميشنران چې دوه يې د ټاکنو خپلواک کميسيون او دوه يې د ټاکنيزو شکايتونو اورېدو کميسيون لپاره دي او په مستقيمه توګه له دواړو کميسيونونو سره د دوی په چارو کې مرسته کوي.

سياسي ګډون تر ټولو زيات او سيالي تر ټولو سخته ده. د ولسمشرۍ نوماندانو او امنيتي او دولتي ادارو په ګډون، دا د ټولو سياسي لوبغاړو مسؤوليت دی څو ډاډ ترلاسه کړي چې ټاکنې په مساوي او عادلانه توګه ترسره شي. زه ټولو نوماندانو - او د دوی ملاتړو - ته د هغه چال چلند يادونه کوم چې دوی د خپلې نوم ليکنې پاڼو د سپارلو پرمهال لاسليک کړی و. همدارنګه زه له ټولو لوبغاړو نه غوښتنه کوم چې له زغم څخه کار واخلي، د دولتي ادارو، په ځانګړي توګه د ټاکنو خپلواک کميسيون او د شکايتونو کميسيون، درناوی وکړي او له هغو اقداماتو څخه ډډه وکړي چې کوم نوماند ته غير ضروري ګټه رسوي. لکه څرنګه چې زما مخکينيو ځای ناستو د تيرو ټاکنو څخه مخکې هم پرې په دې فورم کې ټينګار کړی، ټول نوماندان بايد دولتي سرچينو ته يو شان لاسرسی ولري. په ورته ډول، دولتي چارواکي بايد د نه لاسوهنې اصل ته درناوی وکړي او د يو ځانګړي نوماند ملاتړ لپاره د خپل موقف يا سرچينو کارولو څخه ډډه وکړي.

اوس د دې حياتي سياسي بنسټ ايښودلو ته اړتيا ده څو ډاډ ترلاسه شي چې ټاکنې به باوري وي او پايلې به يې ومنل شي. افغانستان له ټاکنو وروسته يو لانجمن او اوږدمهاله بحران نشي زغملی چې له امله يې کېدای شي يو داسې ولسمشر ولري چې کمزورې ډيموکراتيک کورنی مشروعيت به ولري او په دې توګه به نوی ولسمشر ونشي کولای چې د سولې په يو اغېزناک او ټولګډونه بهير کې افغانان سره راټول کړي.

ښاغلی رئيس،

نن ورځ د افغانانو او د هغوی د نړيوالو شريکانو ذهنونه تر بل هر وخت ډير د خبرو اترو له لارې حل ته د رسيدو پر اړتيا باندې متمرکز دي. دا حالت بايد دوام ومومي. د متحده ايالاتو او طالبانو ترمنځ مستقيمې خبرې اترې د پراخ نړيوال ملاتړ په شتون کې لا هم دوام لري. افغانستان او ځينې نړيوال شريکان يې، په ځانګړې توګه جرمني او قطر، د بين الافغاني خبرو اترو لپاره چمتووالی نيسي. په دغو خبرو اترو کې به د هغو خلکو غوښتنې او غږونه هم واورېدل شي چې د ټولنې د پراخې برخې استازيتوب کوي. ځينو مشهورو افغان فعالانو دمخه د می مياشتې په وروستيو کې په مسکو کې د طالبانو استازو سره د نظرونو تبادلې فرصت درلود. دا ټولې هڅې بايد د يوې ګډې موخې په لور چې: د سولې موافقې ته د رسيدو لپاره د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ رسمي خبرې اترې پيليدل دي، منظمې او منسجمې شي.

زه د سياسي حل لارې په ملاتړ د دغو نوښتونو پرمخ وړونکو هېوادونو ترمنځ د مخ په زياتېدونکو سلا مشورو د ښو په ليدلو سره هيله من شوی يم. طالبانو ته عمومي پيغام واضح دی: د خبرو اترو مېز ته راشئ او له افغان حکومت سره مستقيمې خبرې اترې وکړئ. زه په هغو هېوادونو باندې چې له طالبانو سره مستقيمې اړيکې او يا پر دوی نفوذ لري، غږ کوم چې دې هدف ته د رسېدو لپاره خپلې هڅې لا زياتې کړي. مګر بيا هم د افغانانو په مشرۍ د سولې خبرو مالکيت او د سولې بهير په لور د دوی د ټولګډونه خبرو اترو د لا زياتولو پرته بله لار نشته. حکومت او سياسي مشران بايد اجماع پياوړې او منظم ترتيبات ونيسي څو له طالبانو سره د دوی په خبرو اترو کې په اغېزناکه توګه د ټولو افغانانو د ګټو استازيتوب وشي. د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره چمتووالی بايد د دې لامل نشي چې له اړينو کارونو څخه د حکومت پام واړوي.

د سولې لار تعقیبول په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کار په سر کې دی. موږ د سولې لپاره د شرایطو په رامنځته کولو کې د مرستې لپاره پر یو لړ پروګرامونو کار کوو، چې پکې د افغان مدني بنسټونو ملاتړ، د طالبانو په ګډون د ټولو اړوندو خواوو سره خبرې اترې، او د نړیوالې ټولنې په استازیتوب د بحثونو په لاره اچول شامل دي. لکه څنګه چې مونږ ته تجربه شوې، آن دا چې که د سولې عمومي هوکړه هم وشي، پلې کول یې د نا حل شویو سیمه ایزو شخړو له امله چې د زیاتېدو احتمال لري، سبوتاژ کېدای هم شي. یوناما له ځایي ټولنو سره کار کوي چې د دوی خپل د منځګړیتوب میکانیزمونه لا پیاوړي او ملاتړ یې وکړي څو دوی پخپله خپلې شخړې حل کړي. د یوې بیلګې په توګه، په ننګرهار کې، د دوو قومونو ترمنځ د اوبو پر سر ۵۰ کلنه شخړه د ځایي منځګړیتوب له لارې حل شوه چې یوناما یې ملاتړ وکړ. ښځو د ټولنو ترمنځ د پلونو په توګه مهم رول ولوباوه. دغه ډول نوښتونه د نړیوالو او سیمه ایزو هڅو مهم او حیاتي بدیلونه دي، چیرې چې د ملګرو ملتونو بې پرېتوب ګټور او له دې سره ځانګړی تړاو لري.

ښاغلی رئیس،

یوازې د سولې یوه جامع پروسه چې د جګړې له امله اغېزمن شوي ټول کسان - د ښځو، ځوانانو، قربانیانو، سوداګرو او مذهبي مشرانو په ګډون- پکې شامل وي، کولی شي تلپاتې سولې ته لاره هواره کړي. افغان ټولنه به د سولې په پروسه کې له ډېرو سختو پوښتنو سره مخ شي، او ډېر څه د له منځه تللو په خطر کې دي: د تیرو ۱۸ کلونو لاسته راوړنې ساتل؛ د ښځو رول؛ د حساب ورکولو مسایل؛ او دا چې څنګه هغه کسان چې وسلې یې لیږدولې بیرته له ټولنې سره یوځای کېږي. ملګري ملتونه چمتو دي چې د افغانانو ملاتړ وکړي څکه چې دوی د هغو بنسټیزو ستونزو سره لاس او ګریوان دي چې په ټولنه کې ریښه لري. همدارنګه ملګري ملتونه ژمن دي چې د ښځو، سولې او امنیت په برخو کې پرمختګ ته لومړیتوب ورکړي – او دا خورا مهم دي. موږ ته تجربه شوې چې دا د تلپاتې سولې تړون رامنځته کولو لپاره غوره او یوازینۍ لاره ده، او په دې برخه کې ډېر څه باید ترسره شي.

د جګړې د پای ته رسېدو تر ټولو ډېره ګټه د افغانستان خلکو ته رسېږي خو دوی لا هم تر ټولو ډېر بایلونکي خلک دي. ملکي افغانان خپل ژوند له لاسه ورکوي، کوچنیان له خپلو زده کړو څخه لرې پاتې شوي او خلک له خپل اقتصادي ظرفیت او قوت څخه کار اخیستلو نه محروم دي. یوازې د روان کال په لومړۍ ربعه کې شاوخوا ۱۸۰۰ ملکي افغانان وژل شوي او یا ټپیان شوي دي. دا شمېره د تېرو ربعو په پرتله کمې خو لا هم خورا زیاتې دي. زه غواړم دلته د حکومت ضد عناصرو لخوا په قصدي ډول د ملکي وګړو په نښه کولو ناوړه عمل ته اشاره وکړم. دا یو جنګي جرم دی او باید ودرول شي. زه د پلټنې عملیاتو او همدارنګه د بشري حقونو اړوند سرغړونو څخه ملکي وګړو ته د زیاتیدونکي زیان او مرګ ژوبلې په اړه هم اندیښمن یم. زه یو ځل بیا تکراروم چې د دې عملیاتو په تړاو لا ډېر شفافیت او حساب ورکولو ته اړتیا شته.

د جنګ جګړو اغېز په ځانګړي ډول پر ماشومانو باندې خورا ډېر خطرناک دی. د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو ترمنځ پر ښوونځیو بریدونه نږدې درې برابره زیات شوي دي. د ناامنۍ له امله نور ښوونځي هم تړل شوي، چې نږدې نیم میلیون ماشومان یې له زده کړو بې برخې کړي دي. هغه ښوونځي چې د رای ورکوونکو د نوملیکنې مرکزونو او د رای ورکولو محلونو په توګه کارول کیږي، په راتلونکي ټاکنیز دوره کې به له زیات خطر سره مخ وي. زه له ټولو حکومت ضد عناصرو څخه په کلکه غوښتنه کوم څو ډاډ ورکړي چې د ټاکنو پرمهال کارول کېدونکي ښوونځي او روغتیايي تاسیسات له بریدونو څخه خوندي پاتې شي؛ او د جګړې له ښکېلو خواوو څخه غوښتنه کوم چې په ماشومانو او تعلیم باندې د جګړو د اغېزو کمولو لپاره اړین اقدامات وکړي.

ښاغلی رئیس،

مونږ له یاده نشو ویستلی چې د هیواد ۸۰ سلنه خلک په ورځ کې له ۱،۲۵ ډالرو څخه کم عاید لري او په خورا ستونزمنو شرایطو کې چې د اقلیم بدلون او جګړې له امله رامنځته شوي دي، ژوند کوي. د تیر کال د وچکالۍ اغیزې نن ورځ هم احساس کیږي چې تر لسو میلیونو پورې خلک د خوړو له کمښت سره مخ دي. داخلي بې ځایه کیدنه لا هم تر ټولو زیاته کچه کې ده، چې سرېکال یې یوازینی لوی لامل د طالبانو او د اسلامي دولت خراسان څانګې ترمنځ جګړه ده. زه د ټولو هغو بسپنه ورکوونکو څخه مننه کوم چې سږکال یې په سخاوتمندانه توګه د بشردوستانه پروګرامونه تمویل کړي دي. خو بیا هم، بشردوستانه غبرګون کم تمویل شوی - یوازې ۲۳ سلنه - او زه یو ځل بیا د مالي تمویل د زیاتولو لپاره ستاسې د ملاتړ غوښتنه کوم.

ښاغلی رئیس،

افغانستان پراخ اقتصادي ظرفیت او وړتیا لري، خو د جګړو له امله لا هم ترې ګټه نه ده اخیستل شوې. دولت د فساد ضد مبارزې او عامه سکتور اصلاحاتو کې پرمختګ کړی دی. پراختیایي شریکانو د بیړنیو اړتیاوو سربیره نورې چارې هم پیل کړي او له سولې راتلو وروسته شرایطو کې د پراختیایي مرستو لپاره لارې چارې لټوي. مګر دا مهم کار یوازې هغه وخت ګټور تمامیدای شي کله چې د سولې هوکړه ترسره شي. د سولې لاره لاهم اوږده ده، مګر د سولې بهیر د بشپړ مالکیت لپاره زموږ د متحد ملاتړ سره، زه یو څه خوشبین یم چې موږ په سم لوري روان یو.

ډېره زیاته مننه.

***

*یوناما ته دنده سپارل شوې چې د یو سیاسي ماموریت په توګه، د افغان حکومت او د افغانستان د خلکو څخه ملاتړ وکړي چې د نورو مهمو خدمتونو تر څنګ 'د شخړو حل او منځګړیتوب' هم کوي. 'د شخړو حل او منځګړیتوب' هغه ډیپلوماټیک ګامونه دي چې ملګري ملتونه یې د خپلې خپلواکۍ، بې طرفۍ او بشپړتیا په اساس، په عامه او خصوصي توګه اخلي ترڅو د نړیوالو شخړو د رامنځته کیدو، زیاتیدو یا خپریدو مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له پروسې سره مرسته کوي؛ بشري حقونه څاري او دودوي لکه، په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو خوندي ساتنه؛ ښې حکومتولی ته وده ورکوي؛ او سیمه ایزې همکارۍ هڅوي. همدارنګه دا ماموریت د نړیوالې ټولنې لخوا د منظمې او منسجمې پراختیا ملاتړ ته هم وده ورکوي.*